LSSAJ Social Sceince AcademicJournal
لید د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# د وینو دریاب په شعري ټولګه کې د متل کارونه

**پوهنیار عبدالوکیل حبیبي**
د پښتو ژبي او ادب څانګه، ښووني او روزني پوهنځی، پکتیکا پوهنتون، پکتیکا-افغانستان
ایمیل: wakilhabibi13@gmail.com

ترلاسه سوي: ۱۴۰۴/۰۸/۲۴ ، منل سوي:۱۴۰۴/۱۲/۱۹، خپره سوي: ۱۴۰۴/۱۲/۲۹، مخونه:۱۸۲-۱۹۶

**لنډیز**

متل په پښتوژبه کې ښه او پخوانی ځای لري،پخپل لنډوالي سره یو کتاب مفاهم وړاندې کوي،ولسي ادب د اوسني او راتلونکي وخت څېړونکو ته یو ښه او ارزښتمند میراث پاتې دی؛ځکه د ولسي او لیکلي ادب تر منځ یو پل دی،د څېړنې ارزښت یې په دې کې دی،چې زموږ د ټولنې رسم،رواج،عادتونه او نور راته ښایي او په ځانګړي ډول د متلونو رول او ارزښت په منظومو ادبي آثارو کې راته بیانوي،د وینو دریاب شعري ټولګې،شاعر عبدالمتین وردګ دی،په(۱۳۳۱ل.)کال په جغتو ولسوالی سېده کلي کې زیږېدلی،د دې ټولګې منځپانګه دیني،فقهي،اخلاقي،ټولنیزې کړنې،پند او نصحت او همدارنګه ارسال المثل ته ځانګړې شوې،له دې څېړنې څخه هدف او موخه په یاده شعري ټولګه کې د ارسال المثل ادبي صنعت پیدا کول دي،د دغه علمي مقالې د څېړنې ډول کتابتوني او مېتود یې تحلیلي ــ توصیفي او تشریحي دی.

**کلیدي کلمې:** ادبي صنعت، ارسال المثل، شاعر، متل، د وینو دریاب

# The Use of Proverbs in the Poetry Collection "Da Wino -e-Daryab"

**Teaching Assistant. Abdul Wakil Habibi**
Pashto Department, Educatoin Faculty, Paktika University, Paktika-Afghansitan
Email: wakilhabibi13@gmail.com

**Abstract**

Proverbs reflect the collective wisdom of society, shaped by folk knowledge and accepted values of a particular time. Their significance lies in illustrating how they function within poetic literary works. The poetry collection Daryab-e-Wino incorporates various literary devices, with particular emphasis on irsal al-mathal (the use of proverbs). When a poet includes a well-known proverb in verse, it is regarded as the literary device of irsal al-mathal, which is closely connected to proverbs. This study views irsal al-mathal as an effective means of attracting the audience's attention and strengthening poetic expression. The main objective of this research is to identify and analyze the use of this literary device in the mentioned work. The study is library-based in nature and employs analytical, comparative, and descriptive methods.

**Keywords**: Literary Device, Proverb, Arsal al-Mathal, Poet, Diwan Da Wino Darya

## سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم. الحمدلله رب العالمین، ایاک نعبد و ایاک نستعین، والصلواة والسلام علي سیدالمرسلین واله وصحبه اجمعین.

شاعران په خپلو اشعارو کې د ټولنې اړتیاوې، ناخوالې، واقعیتونه او پیښې په ښه او هنري بڼه وړاندې کوي، همدوی د ژبې او ادب په پرمختګ کې ښه او ستر رول لوبولی شي، نو ادبیات په عمومي ډول په دوو برخو وېشو، لومړی نالیکلي ادبیات، چې وخت، ځای او لیکوال یې نامعلوم وي او دوهم لیکلي ادبیات، چې ځای، وخت او لیکوال یې راته معلوم وي، وروسته دغه ادبیات پر نورو برخو (منظم او منثور) هم وېشل شوي، هر وخت چې په ادبي برخه کې څېړنه کوو، د فولکلوري ډولونو یا ژانرونو په څنګ کې د متل له نامه سره حتمي مخامخ کېږو، چې زموږ د هېواد، ژبې، ولس او د نړۍ په نورو ژبو کې له ورځنیو علمي او ټولنیزو کړنو سره نږدې او ښې اړیکې لري، زموږ او د نورو ژبو شاعرانو په خپلو شعرونو کې دغه برخې ته ډېره ــ ډېره پاملرنه کړې ده او د استعمال ځایونه یې راته ښوولي او تر څنګ یې خپل اشعار پرې ښکلي کړي دي. متل او په شعر کې یې استعمال هېڅ استدلال ته اړتیا نه لري؛ ځکه د ټولنې د اصولو او کړنلارې مطابق جوړ شوی وي، د شعر له پاره متل ډېر ګټمن او ارزښتمن دی، د دې ارزښت ټاکلو په موخو تر اوسه داسې علمي او څېړنیزه مقاله او یا هم کوم کتاب په دې اړوند، چې په شعر کې د متل استعمالولو اهمیت راته په ګوته کړي لیکل شوی نه دی، ډېرو شاعرانو په خپلو اشعارو کې متلونه استعمال کړي، همدارنګه زموږ ګاونډۍ رسمي ژبې دري ــ فارسي او د نړۍ د نورو ژبو په ادبیاتو کې هم د ارسال المثل ادبي صنعت شته، له بده مرغه په دواړو ژبو کې د یوه عنوان په توګه معرفي کېږي، په کومه اندازه چې بایده ده وڅېړل شي، کار ورته شوی نه دی.

د پښتو ژبې د معاصر عصر شاعر عبدالمتین وردګ په یوه شعري ټولګه ((د وینو دریاب)) کې متل کارونه یا ارسال‌المثل ادبي صنعت، موضوع مې څېړلې ده، چې تر دې مقالې وړاندې هېڅ لیکوال پرې څه لیکلي نه دي، نو ما په دغه مقاله کې لومړی د متل په اړه خبرې کړې دي، تر دې وروسته ارسال-المثل ادبي صنعت پېژندل شوی، بیا د مقدمې په ډول د کلاسیک منظوم ادب ځینو شاعرانو ( خوشحال خان خټک، عبدالرحمن بابا، عبدالحمید مومند، کاظم خان شیدا او نورو ) ځینې بیتونه مې راوړي، چې د ارسال‌المثل صنعت یې کارولی، په معاصره شاعرۍ کې د نورو شاعران په څنګ عبدالمتین وردګ نوم یادولی شم، چې ارسال‌المثل ادبي صنعت یې په خپلو شعرونو کې کارولی، زموږ او د نړۍ ډېری نالوستو او لوستو کسانو په خپلو شعرونو کې متلونه استعمال کړي دي، چې دې برخې ته ارسال-المثل ادبي صنعت وایي، په شعر کې د ولسي برخې متل استعمالول د شاعر کار دی، چې دغه کارونه یې په وړتیا، ذهني قوې او علمیت پورې اړه لري.

د پورته یادونو پر بنسټ ویلی شم، چې زموږ پښتنو شاعرانو په خپلو شعري ټولګو او دېوانونو کې ډېر متلونه استعمال کړي یا ارسال‌المثل ادبي صنعت یې په ځانګړي طرز سره کارولی، دغه کارونې د منځنۍ یا کلاسیکې ادبي دورې ډېرو شاعرانو، همدارنګه د معاصرې یا اوسنۍ ادبي دورې اکثریت شاعرانو تر نن ورځې پورې جاري ساتلې دي او نور به هم دوام کوي.

**د څېړنې اصلي موخه**

۱ ــ د وینو دریاب شعري ټولګه کې د ارسال‌المثل ادبي صنعت پیدا کول، چې راتلونکو ادبي څېړونکو ته د شاعرانو په شعرونو کې د یاد ادبي صنعت یو علمي لارښود وي.

**فرعي موخې**

۱- د ارسال‌المثل ادبي صنعت پېژندنه.

۲- دغه پوښتنې ته ځواب ویل، چې د وینو دریاب شعري ټولګه کې متلونه په مستقیم او که په غیر مستقیم ډول وړاندې شوي.

۳- دا ثابتول چې متل له ولسي ادبه پرته په لیکلي ادب او په ځانګړي ډول په معاصره شاعرۍ کې کارول شوی.

۴- د موضوع په انتقال کې د متل نقش جوتول.

۵- د عبدالمتین وردګ پېژندنه.

**د څېړنې اصلي پوښتنه**

۱- د وینو دریاب په شعري ټولګه کې ارسال‌المثل ادبي صنعت په کومه کچه استعمال شوی دی ؟

**فرعي پوښتنې**

۱- ارسال المثل څنګه ادبي صنعت دی؟

۲- د وینو دریاب شعري ټولګه کې متلونه په مستقیم که په غیر مستقیم ډول کارېدلي دي؟

۳- متل له ولسي ادبه پرته په لیکلي ادب او په ځانګړې توګه په معاصره شاعرۍ کې څنګه کارېدلی؟

۴- په شعر کې د متل استعمالول د یوې موضوع په انتقال کې څومره مثبت رول لري ؟

۵- عبدالمتین وردګ څوک دی؟

**مواد او کړنلاره**

د دې څېړنې ډول کتابتوني دی، د څېړنې اکثریت مواد د پکتیکا پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځي د پښتو ژبې او ادب څانګې په ځانګړي کتابتون او همدارنګه زما ( عبدالوکیل حبیبي ) په خپل شخصي کتابخانه کې راسره وو، له ټولو څخه مې د څېړنې او موضوع اړوند ټول علمي مواد را ټول کړي او د

ماخذ په توګه مې کارولي، چې لست یې د ماخذونو په برخه کې شته او مېتود یې تحلیلي، مقایسوي ــ تشریحي دی.

د وینو دریاب شعري ټولګې ټوله منځپانګه مې وکتله، د ارسال‌المثل برخه مې ترې را جدا کړله، زموږ د پښتو ولسي ادب ډېره برخه، په ځانګړې ډول متلونه تر اوسه د کتابونو پاڼو ته رسېدلي نه دي، اکثریت یې په کلیو او لیرې پرتو سیمو کې د خلکو په حافظو کې پاتې دي، خو ځینې یې زموږ د ولسي ادب خواخوږو په ډېر زحمت را ټول کړي، په دغه برخه کې تر ټولو وړاندې محمد دین ژواک نوم یادولی شم، د پښتو متلونو په نامه یې یوه ټولګه را ټوله کړې، په دغه ټولګه کې هغه متلونه، چې د وینو دریاب په شعري ټولګه کې د ارسال‌المثل ادبي صنعت په توګه کارول شوي وو، وکتل او ورسره مې پرتله او ډاډ مې حاصل کړ، چې متلونه دي. (ژواک،۱۳۸۹ ، بېلابېلې)

بله ټولګه شاه محمود ګډوال د پښتو متل سپړنه په نامه چاپ کړې ده، له دغه ټولګې څخه مې هم د متلونو پرتلنې په برخه کې له بېلابېلو پاڼو څخه استفاده کړې ده. (ګډوال،۱۳۹۴ ، بېلابېلې)

تر ټولو وروسته د استاد محمد آصف صمیم په زیار د پښتو متلونو یوه غټه ټولګه د متلونو کلیاتو په نامه، چې (۱۴۰۰) متلونه په کې را ټول شوي، په (۱۳۹۶ل.) کال د مومند خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګې د (۱۰۰۰) ټوکونو په تیراژ چاپ کړې ده، دغه ټولګه د الفباء په ترتیب برابره شوې ده، هغه متلونه چې د وینو دریاب په شعري ټولګه کې د ارسال‌المثل ادبي صنعت په موخه کارول شوي وو، د متلونو له دغه ټولګه سره مې پرتله کړل او ثابته شوه، چې دغه هم متلونه دي او په اصطلاح یې نشو حسابولی.(صمیم،۱۳۹۶، بېلابېلې)

د وینو دریاب په شعري ټولګه کې د ارسال‌المثل ادبي صنعت برخه کې شپږ بېلګې له څېړنې وروسته لاسته راغلې، چې شاعر په ښه هنري شکل خپله وړتیا په کې ښوولې ده، نو هغه پوښتنه په کې ځواب شوه، چې متل په ولسي ادب او هم د لیکلي ادب په منځنۍ ادبي دوره او په اوسنۍ ادبي دوره کې شاعرانو په خپلو اشعارو کې استعمال کړی، ارسال‌المثل له متل سره تړلی دی، یعني لازم او ملزوم دي، د ارسال‌المثل په اړه په دې نظر یم، چې د لوستونکو او مخاطبینو د توجو را جلبولو ښه وسیله ده، په شعرونو کې د مفهوم د وړاندې کولو بهترینه لار او د ښایست مانۍ ده، په شعر کې د متل استعمال هیڅ استدلال ته اړتیا نه لري؛ ځکه د ټولنې د اصولو او کړنلارې مطابق جوړ شوی وي، د شعر له پاره متل ډېر ګټمن او ارزښتمن دی، مخاطبین په ډېره آسانۍ د شعر په مفهوم پوهیږي، د وینو دریاب شعري ټولګې شاعر عبدالمتین وردګ دی، د جغتو ولسوالي د سېدې کلي اوسېدونکی دی.

**نتیجه او مناقشه**

د وینو دریاب په شعري ټولګه کې د ارسال‌المثل ادبي صنعت وڅېړل شو او بېلابېلې بېلګې په کې لاسته راغلې، چې شاعر د پښتو ژبې مشهور متلونه د الفاظو په کم تغیر سره په کې استعمال کړي او دغه هدف ته ورسېدم، چې متل له ولسي برخې پرته په لیکلي ادب او په ځانګړي ډول په معاصره شاعرۍ کې هم ځانګړی ځای لري.

د دغه علمي مقالې په لمن کې متل او ارسال‌المثل پېژندنه، همدارنګه په منځنۍ او معاصره ادبي دوره کې د ځینو شاعرانو په اشعارو کې د ارسال‌المثل یوه ـ یوه بېلګه د نمونې په ډول وړاندې شوې، د پښتو ژبې د اوسني عصر یوه شعري ټولګه ((د وینو دریاب)) په نامه شتون لري، تر دې وړاندې د ارسال‌المثل ادبي صنعت اړوند تر اوسه د کوم لیکوال له خوا علمي څېړنه پرې شوې نه ده. د پښتو ژبې په متلونو او همدارنګه په ارسال‌المثل ادبي صنعت څېړنې شوې دي، کېدلی شي د ځینو شاعرانو په دېوانونو او شعري ټولګو کې هم د ارسال‌المثل ادبي صنعت اړوند څېړنه شوې وي، کوم یو څېرکی یا به یې یوه برخې ورته ځانګړې شوې وي، یا به یې دغه برخه د یوه عنوان په توګه معرفي کړې وي، یا به یې یوه بېلګه په کې پیدا کړې وي، خو د یوه ځانګړي علمي اثر په توګه تر اوسه کوم څه نشته.

**متل**

که و وایم د ادبي علومو د څېړنې له پیل څخه تر نن ورځې پورې داسې یقیني او بشپړه د متل پېژندنه شوې نه ده؛ ځکه د متلونو لمن زموږ په ولسي ادب او نورو پرمختللو ژبو کې بې کچې پراخه ده او موضوعات یې ډېر دي او د ژوند په بېلابېلو برخو کې متلونه وینو او شته او خپل مفاهیم وړاندې کوي، نو یو ټاکلی او جامع تعریف یې نشو کړلی.

په پښتو متلونو کې د پښتني ټولنې هغه پوهه او علمیت را څرګندیږي، چې د ولسي پوهې او استعداد له مخې ټاکل شوي وي، ټولنې په هغه او اوس وخت کې منلي وي، نو بایده د ټولنې له مذهب، رسم او دود سره برابر وي، د ولس د خلکو له دیني، علمي او فرهنګي سویې سره په ټکر کې نه وي، په ډېره ښه توګه، ښه، ساده او خوږه ژبه ویل شوي وي، اوس به د متل پېژندلو ته راشو.

د متل پېژندنې په اړه استاد لعل پاچا ازمون په خپل تدریسي کتاب ((پښتو فولکلوري ادبیات )) کې لیکلي: (( متل هغه پخه، کره، په تول تللو رېولفظونو یوه ښکلې پایله ده، چې د ژوند له تجربو راوتې او اوس مهال موږ ته د یوې خبرې د ثبوت، پخلي او اغېزمنتیا له پاره کارول کېږي. )). ( ازمون،۱۳۹۵، ص ۲۶۲ )

محمد اورنګ مختار د ماسټری تېزس (( د وردګو کلتوري يون )) په نامه لیکلی ، په دغه کتاب کې د متل په اړه داسې لیکل شوي : (( متلونه د هوښیارو ذهنونو زېږنده وي ، د متل ویونکي او وخت هېڅ ته معلوم نه وي ، متل خام او د زمان تابع کلام هم نشي واقع کېدلی ، پښتو متلونه په ټولو پښتنو وګړو شریک دي او هېڅ قام په خپل نامه قومي متلونه ، نه لري او که د کوم قوم نوم په متل کې یاد شوی وي ، نو متل د هغه قام نه دی ، لکه ( توري پور غواړي ، افريدي نور غواړي ) دا متل نه د افریدیو دی او نه هم د توریو ، یوازې د دغه قومونو نومونه په کې یاد شوي او د جوړېدو او استعمال وجه يې دا ده ، چې مثلاً په ( لانجه کې را ښکیل ( بندي شوې / تړلي شوې ) دوې ډلې دربیمګړيو ته ناستې وي او هره ډله د ځان په ګټه لوړې او ډېرې غوښتنې ولري او ځان حق په جانب وګڼي ، دربیمګړي د دوی تر منځ د لانجې له حل عاجز شي ، نو وايي عجیبه ده ( توري پور غواړي ، افريدي نور غواړي ) خو اصلاً متل د کلام د تائيد له پاره د کانې کرښه ده ، کله چې د چا په خبره او یا په عمل متل تېر شي ، که یې په ګټه وي یا زیان مني به یې ؛ ځکه متل هغه تجربه ده او پخه پر ځای خبره ده ، چې هېڅ بدلونه ، نه مني . )) . ( مختار ، ۱۳۹۴، ص ۲۲۴)

زه په دې يقين او باور یم ، چې دغسې ( توري پور غواړي ، افريدي نور غواړي ) متلونو ته ورته نور متلونه هم شته ، چې د يوه قوم او سیمې یا هم ځای نوم ذکر په کې راغلی وي ، موږ دې ته ورته متلونو په خپله سیمه کې لرو ، لکه ( **تر ولبدین اوښتي ، بېرته را نه دي اوښتي** ) ولبدين غابنی ، د وردګ جغتو ولسوالۍ او سیدآباد تر منځ کنډو دی ، د جغتو ولسوالۍ خار او مردعلي کلي د سیدآباد ولسوالۍ له عبدالمحی الدین ( ولبدين ) کلی ځخه بېلوي ، په پخوا وختونو کې د ټولو وردګو هدیره په سیدآباد کې وه ، بیا یې مړي هلته وړل او هلته به یې دفن کول ، دغه خبره چې مړي به یې هلته وړل کړه او دقیق وخت یې معلوم نه دی ؛ ځکه هم ورته متل ویلی شم ، دې ته ورته نور پښتو متلونه هم لرو ، لکه ( **سه ګانه د دوو ډولونو ځای نه دی** ) دغه سیمه ( سه ګانه ) په پکتیکا کې ده ، دغه ځای په هغه وخت کې ډېر کوچنی وو ، خو اوس يې نفوس زیات شوی ، د دغه متل وخت هم په ټاکلي ډول نشو معلومولی .

زموږ د ماسټرۍ تحصیلي دورې دروند استاد سرمحقق زلمي هېوادمل په خپل کتاب (( د پښتو ادبیاتو تاریخ )) کې د متلونو د پېژندنې تر عنوان لاندې داسې لیکلي : (( متلونه د پښتو شفاهي ادبیاتو هغه درنې ، پخې او په تول تللې خبرې دي [ چې هغه د ارواښاد استاد قیام الدین خبره ، د پښتنو حیاتي فلسفه ټوله په متلونو کې بیان شوې ده ] متلونه هغه لنډې ویناوې دي ، چې د معنی له پلوه بشــــپړې ، د مفهوم او مورد په لحاظ عامې وي ، د متلونو فصاحت او بلاغت په دې کې دی ، چې متلونه د فورم په لحاظ

لنډې او موجزې جملې دي، خو د مفهوم له لحاظه ژور مفاهیم په کې ځای شـــوي وي، ژبه یې ســـاده او عام فهمه وي او افاده یې مستـقیمه هدف ته متوجه وي. د پښتـــو په شفـاهي ادبیاتو کې متلـونه په لوی ســـر کې په دوو برخو وېشــــلی شــــو، یو یې عـــادي یا عام متلـونه دي، چې د خـــلکو د عامو خبرو په څېر په لنډو جـملو کـې اوډل شـــــــوي دي او بله برخه یې هغه متلونه دي، چـــې منظـــوم شـــکل لري او د دوو مسـریو په بڼه تنظـــیم شـوي وي . . . )) . ( هېوادمل ،۱۳۹۳ ، ص ۱٦ ).

**ارسال‌المثل ادبي صنعت**

د آریانا دایرة المعارف په لومړي ټوک کې  د ارسال المثل د پېژندنې په اړه داسې لیکل شوي: (( ارسال‌المثل د بدیع په علم کې هغه صنعت ته ویل کېږي، چې شــــاعر په خپل شعر کې یو مشـهور متـل په ځانګړې طـــریقه باندې ځای کړی وي .)). ( اکاډمي، ۱۳۸٦، ص ۳۰۷ )

په (( فرهنګ فارسي عمید )) لومړي ټوک کې د ارسال‌المثل په اړه داسې لیکل شوي: (( در اصطلاح علم بدیع آنست که شاعر در شعر خود مثل مشهوری بیاورد، یا شعری یا سخنی حکیمانه بگوید که حکم ضرب‌المثل پیدا کند، و در افواه بیفتد. )) . ( حسن ، ۱۳۸۱، ص۱۳۵ )

محمد ابراهیم همکار په خپل تدریسي کتاب ((بدیع پوهنه)) کې د ارسال‌المثل په رابطه لیکلي:((که چېرته شاعر په خپل کلام کې مشهور متل راوړي، نو ارسال‌المثل ادبي صنعت یې بولي، که چېرته شاعر په خپل کلام کې دوه مشهور متلونه راوړي، نوموړي ادبي صنعت ته ارسال‌المثلین ادبي صنعت وایي . )) . ( همکار ،۱۴۰۲ ، ص  ۲۱ )

د کندهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د پښتوځانګې افتخاري اســــــتاد حیات الله رفیقي د هغه وخت په تدریسي کتاب (( ادبي ښکلاوې ))کې د ارسال‌المثل او مدعامثل په اړه لیکلي:(( مدعا-مثل هغه ادبي ښکلي جــــوړښت ته ویل کېږي، چې شاعر په کلام کې د خپلې مدعا د ثبوت له پاره د بیت په یوه مصرع کې خپل مطلب راوړي او په بل نیم بیتي کې د خپل مطلب د ثبوت له پاره یو متل راوړي، ارسال‌المثل هغه ادبي صنعت ته وایي، چې شــــــاعر په خپل شعر کې یو مــــشهور متل راوړي، ارســــــال‌المثلین بیا هغه ادبي جــــوړښت ته وایي، چې شــــاعر په کلام کې دوه مشــــــهور متلونه راوړي. )) . ( رفیقي ، ۱۳۸۹ ، ص ۱٦) اروابناد استـــاد عبدالرؤف بېنوا په خپل کتاب (( ادبي فنون ))کې د ارسال‌المثل ادبي صنعت په اړه داسې لیکلي: (( ارسال‌المثل داسې صنعت دی، چې یو

متل یا یوه مشهوره جمله په نظم کې راوړه شي او ارسال‌المثلین دا دی، چې دوه متلونه په یوه بیت کې راوړي. )) . ( بېنوا ، ۱۳۹۰ ، ص ۷۲)

د ارسال‌المثل په اړه په دې نظر یم، چې د لوستونکو او مخاطبینو د توجو را جلبولو ښه وسیله ده، په شعرونو کې د مفهوم د وړاندې کولو بهترینه لار او د ښایست مانۍ ده.

په کلاسیک ادب شاعرۍ کې زموږ ډېرو مشرانو شاعرانو په خپلو شعرونو کې د متل استعمالول یا ارسال-المثل ادبي صنعت کار کړی دی، په دې دوره کې خوشحال خان خټک او نورو شاعرانو دغه مهمې ولسـي ادبي برخې ته په خپلو شعرونو کې ښه ډېر ځای ورکـړی، ځینې نمونې به یې ( **مشت نمونه خروار** ) د مقدمـې په توګه را واخلم، خوشحال خان خټک د پښتوژبې متل ( **چې کړې هغه به ریبې**) په خپل منظوم کلام کې داسې راوړی:

هـغـه چـې وکـړې هـغـه بـه وریـبـې
لـه خـپـلـه لاسـه هـره کـرلـه شي

(خټک، ۱۳۴۹، ص ۱۹۱)

په کلاسیک دور کې د پښتو ژبې خوږ ژبي صوفي شاعر عبدالرحمن بابا ډېر خواږه، روان او عام فهمه شعرونه که هر څوک ولولي، یقیني یم ډېری بیتونه یې له حکمت او پوهې څخه خالي نه دي، د خپلې شاعرۍ په رنګین باغ کې یې د پښتو ژبې درنې خبرې په خپل کلام کې ډېرې په لوړ ادبي قوت راوړې دي او د خپلو اشعارو ګلستان یې پرې سمسور او تازه کړی، دغه متل ( **مېږی چې وزرې وکړي ورکه یې راغلې**) د بېلګې په توګه راوړم:

سرکښـــي د عــاجـزانـو پــه کــار نــه ده
هـر مـېږی چـې وزر وکـانـدي پـېښـــمان شي

(غرول، ۱۳۹۸، ص ۲۳۵)

عبدالحمید مومند هم په خپلو شعرونو کې د موضوع د ښه والي او ثبوت په موخه د متلونو له استعمال څخه کار اخیستی، تر ډېرو پښتنو شاعرانو یې متلونه په خپلو شعرونو کې ډېر استعمال کړي او خپل شعرونه یې پرې ښایسته کړي او د خوږې پښتو ژبې دغه متل ( **چې نه کار، هلته څه کار** ) د خپل دېوان په یوه ډېر عالي بیت کې داسې ځای پر ځای کړی:

هلته څه غرض چې یې نه غرض متل دی
ځکه نه کا په ډېوه بلبل غرض

(صمیم ،۱۳۹۳، ص ۹۱)

کاظم خان شیدا ډېر شعرونه ویلي دي، چې په ډېره ژوره معنی او مفهوم سره د ټولنې په ټولنیز ژوند او چارو پورې اړه لري، اکثریت شعرونه یې په متلونو ښکلي کړي، د پښتو ژبې دغه متل( **سل دې ومره، خو د سر دې مه مره** ) یې په لاندې بیت کې په داسې ښه راوړی، چې مفهوم یې په ښه شکل وړاندې کړی:

یو په سل او سل په هیڅ ضرب المثل دی
افاده یې په عالم کې ده مشهوره

(شیدا، ۱۳۳۱، ص ۲۱۱)

په معاصره شاعرۍ کې هم د ارسال‌المثل کارونه شوې ده، ډېرو شاعرانو په خپلو اشعارو کې د متل خواته توجه کړې، په دې دوره کې د نورو شاعرانو تر څنګ د پښتو ژبې یو کلیوال لوستي شاعر عبدالمتین وردګ نوم یادولی شم، نوموړی شاعر د عبدالقیوم زوی او د عبدالکریم لمسی، په (۱۳۳۱ل.) کال د وردګ ولایت، جغتو ولسوالۍ اړوند د سېده په نامه کلي کې زیږېدلی، لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د غازي محمد جانخان په لېسه کې سرته رسولې دي، په (۱۳۵۱ل.) کال د ګردېز په دارالمعلمین کې شامل او په (۱۳۵۴ل.) کال ترې فارغ شوی او بیا یې د خپلو ولایت په بېلابېلو لېسو کې د ښوونکي، مدیر او د جغتو ولسوالي د پوهنې آمر په توګه دنده سرته رسولې ده.( وردګ، ۱۳۹۷، ۲۶۹) نوموړی شاعر له ډېره وخته راهیسې شاعري کوي، د شعرونو یوه مجموعه یې (( د وینو دریاب )) په نامه ده، چې په (۱۳۹۲ل.) کال د زر ټوکونو په تېراژ د کابل په شاکر مطبعه کې په (۲۰۴) کتابي مخونو کې چاپ شوې ده، لومړي ګل آغا احمدي د نوموړي شاعر په شعري ټولګو خبرې کړې دي، وروسته پرې شاعر خپله سریزه لیکلې ده، له دې وروسته حمد او نعت شریف او بیا (۹۱) عنوانه بېلابېل شعرونه، له دې وروسته (۱۷۲ ــ ۱۸۲) مخونو کې لنډۍ او بیا (۱۸۴ ــ ۲۰۴) کتابي مخونو پورې څلوریزې په کې راغلې دي.( وردګ، ۱۳۹۲، بېلابېلې)

د فورم له مخې په یاده شعري ټولګه کې ټول غزلونه راغلي، شعرونو یې د محتوا له مخې بېلابېل دي، د نورو ادبي صنعتونو په څنګ کې ارسال‌المثل ادبي صنعت هم په کې کارول شوی، چې همدغه یې زموږ آساسي موضوع ده.

فســـادونه شـــته هم بېګناه مرګونه
چې د ویـنو دا دریـاب وهـي موجونه

عبدالمتین وردګ یو ښه او د خلکو په زړونو کې ناست او منل شوی شاعر دی، خلکو ته د ښوونې او روزنې اړوند درسونه ورکوي، شپه او ورځ د ولس د خلکو په علمي روزنه لګیا وي، له شکه څخه وتلې ده، چې د خپل ولس یو رښتینی لارښود او معلم دی، خلکو ته له تربګنۍ او دښمنۍ څخه د کرکې درسونه ورکوي او پر ځای یې د وروروولۍ، ښېګڼې، مینې، اخلاص او محبت خبرې کوي، بې ځایه مرګونه او جنګونه په خپلو اشعارو کې غندي او خلک تعلیم ته را بولي.

راشـــئ اې دوســـتانو چې د پوهې ډېوې بلې کړو
دې لار کې به ډېرې موږ او تـاســو هلې ځلې کړو
شـــکر دی هر ځای کې مدرســـې او ښـــوونځي لرو
هـم موږ لېســـې هـم منـځنـي او لـومړني لـرو

(وردګ، ۱۳۹۲، ص ۱۰۰ )

د پورته یادونو پر بنسټ اوس اصلي او بنسټیزې موضوع ته راځم، چې د عبدالمتین‌وردګ (( د وینو دریاب)) په شعري ټولګه کې د ارسال‌المثل ادبي صنعت یا په شعر کې د متلونو کارونه ده، دغه ښکاره خبره ده، چې د عبدالمتین وردګ خوږو شعرونو د ډېرو خلکو زړونو ته لار پیدا کړې او د ولسي پوهې یعنې متلونه برخه یې په شعرونو کې له ورایه ښکاره ده، دغه معاصر شاعر د خپل وخت پوه کسانو ته د پښتو ژبې مشهورو متلونو پر بنسټ اشاره کړې ده، څنګه چې پښتانه متلونه وایي د مفهوم په لحاظ یې په همغه بڼه په خپلو اشعارو کې ویلي او لیکلي .

حـق ویـل ورتـه ړنـدو تـه تـېل ســـېځـل دي
ګـتـه نشـــتـه و هـغـوی تـه پـنـد ارشـــاد کـې

( هماغه : ۳۱)

د پښتو ژبې دغه منثور یا عادي متل ( **ړانده ته شپه او ورځ یوه ده/ ړانده ته څراغ لګول بې ګټې دي**) په ډېره ښه او خوږه ژبه په پورته بیت کې په هنري ډول ځای پرځای کړی.

د نېک عمل توفیق به غواړم له الله (ج)نه مدام
خپلو عملونه به له ځان سره مل ولیکم

( هماغه : ۱۲۲ )

ټولو پښتانو ته دغه مشهور متل معلوم دی، چې وايي: ( **خپل عمل د لارې مل دی** ) وردګ صاحب په پورته روان، سلیس او خواږه بیت کې دغه متل وړاندې کړی، خلکو ته په ټولنیز ژوند او چارو کې د ښه عمل، هڅو، زیار او کوښښ لارښوونه کوي، که زموږ او تاسو په ټولنه کې یو څوک له خپل پلار یا له بل کس سره ناروا یا ظلم وکړي، نور خلک پورته متل ورته وايي، که یو څوک په خپله زراعتي ځمکه کې غنم یا بل داسې څه وکري حتمي ده، چې د تخم اړوند څه به راشنه کېږي، بل څه نه راشنه کوي او که څوک په خپله ځمکه کې څه نه وکري، هلته به څه را شنه نشي، دغه دنیا زموږ له پاره د کښت مثال لري، بایده نیک عملونه په کې تر سره کړو او له بدو اعمالو څخه لاس پر سر شو، په نیکو او ښو کړنو سره د محشر سختې ورځې ته څه تیار او آماده کړو او د لوی څښتن تعالی او د مخلوق په وړاندې شرمنده نشو، د هغې ورځې له سختۍ او شرمینده ګۍ څخه په امن کې شو، نو ویلی شم، چې نوموړی شاعر د پښتو ولسي ادب او د خپلې پښتنې ټولنې له دود او رواجونو سره بلد او مینه یې ورسره ښوولې او د پښتو ولسي باغ څخه یې متلونه په خپلو اشعارو کې ځای پر ځای کړي دي او خپلو اشعارو ته یې ښکلی ادبي رنګ ورکړی او د لوستونکو توجه یې جلب کړې.

په بېړه ورسره ښایي اعلان د جهاد وکړې
هوښیار د نن کارونه خو سبا ته نه پرېږدي

( هماغه : ۱۳۰ )

زما په نظر په نږدې او لیرې اشارې سره په پورته بیت کې د پښتو ژبې دغه متل ( **د نن کار سبا ته مه پرېږدئ!** ) ښه لري، چې د یوه هوښیار او پوه کس له خولې څخه را وتلی، په ډېره مینه به یې لوړې او ښې معنی ته وګورو، چې په ټولنه، انساني ژوند او چارو کې غفلت او بې پروایي د انسان دواړې دنیاوې خرابوي، که د یوه مسلمان د نن ورځې کارونه بلې ورځې ته پاتې شي، کارونه یې یو پر دوه کېږي او بیا یې تر سره کول ستونزمن کېږي، پورته بیت ته که وګورو یوه په کې د الله تعالی مینه یعنې جهاد کول او بل په کې د پښتو ژبې یو متل ته هم اشاره شوې ده، عبدالمتین وردګ ته د ټولنیز ژوند زحمتونه، کوښښونه او د هڅې ګټې ورمعلومې دي، نو د ټولنې له ټولو وګړیو څخه غوښتنه لري، چې خپل قېمتي وخت په بېهوده کارونو ضایع نه کړي او کوښښ وکړي؛ ځکه د زحمتونو پایلې آبادي او جوړوالی دی،

د دې متل په پای تحلیل کې ویلی شم چې خپل کلام یې په دې متل سره رنگین، خوندور او ښایسته کړی دی.

زه خو وینې هېڅکله پر وینو باندې نه مینځم
وینې چې پر وینو مینځې هغه ډېر ناولې دي

( هماغه : ۱۴۰ )

که پورته بیت ته ځیر شوو، وینو چې د پښتو ژبې د لمر په شان ښکاره او مشهور متل ( **وینه په وینه نه مینځل کېږي**) ته اشاره ده، زموږ په په افغاني او پښتني ټولنه کې هغه وخت ډېر کارول کېږي، چې په سیمه کې له یوه لوري ظلم او ناروا شوې وي، د ټولنې علمي، پوه او درېیم گړي خلک د دوی تر منځ دغه متل کاروي، تر څو له انتقام څخه تېر او ښښنه ورته وکړي، کلیوالي خلک واقعیت مېړني خلک دي، د مشرانو او علماوو خبرې پر ځمکه نه غورځوي، خپل مقابل لوري ته د مشرانو او علماوو په مخ ښښنه کوي، نو دغه شاعر په دې بیت کې په شاعرانه الفاظو سره متل استعمال کړی او خپل شعري کلام ته یې ښایست ورکړی او موضوع یې په ښه شکل راته ښکاره کړې ده.

شـــاوخوا نـه وینـي مـدام یـو خواتـه گوري
ورتـه وي دا خـلـک آســـپـو د بـگـی تـه

( هماغه : ۱۵٦ )

په ځانگړو لفظونو او غوره معنی لرونکو اشارو سره یې په پورته بیت کې په ډېر دقت او غور سره د پښتنو سیمو د سپرلۍ بگۍ یادونه کړې ده، بگۍ، ټانگه یا آس گاډی، زموږ په ولسي فرهنگ کې د سپرلۍ یوه ښه وسیله وه، چې اوس یې سپرلي او عراده ورځ تر بلې له کمې سره مخ ده، زه په دغه نظر یم، چې د پښتو ژبې دغه ( **له ځانه د بگۍ آس مه جوړوه**) متل دی او په خپل شعري کلام کې یې استعمال کړی، هغه وخت کارول کېږي، چې ځیني خلک خپل ځانگړی پلان او هدف نه لري، د نورو په غوښتنو پسې روان وي، د هغوی په لمسون هر څه پر مخ وړي، په خپل ځان کې وړتیا نه گوري، دغه کسان بې ځایه ستړي او ستومانه وي، د زحمتونو نتیجه یې نور ویني، دغسې د بگۍ آس ډېر ستړی او سوده وي، له سپرلۍ یې ناست خلک لذت اخلي او گټه یې بگیوان خپلو اهدافو او هیلو ته رسوي، نوموړي شاعر په دغه متل خپل کلام ته هنریت وربښلی.

تر کتاب بهترين دوســـت نشـــته جهان کې
څوک چې غواړي ورسره وي هر مکـان کې

( هماغه : ۱٦۸ )

د پښتو ژبې دغه ( **کتاب تر ټولو ښه ملګری دی** ) متل يې په خپل منظموم کلام کې ځای پر ځای کـړی او د ولسي پوهې او حکمت دغه اصلي او قیمتي مرغلرې يې د ټولنيز رنګ او خوند په مورد کې ډېرې تر سترګو کېږي، دغه له پوهې او علميت ډک مطلب يې په خپلو هنري مرغلرو کې بيان کړی او د لوستونکو ذهنونو يې پرې معطر کړي، قران کريم د الله تعالی ځانګړی او دايمي‌کتاب دی، په حقيقت سره هم ښه ملګری دی، بايده ملګري يې خوښه کړو، ملګري يې له الله (ج)، پوهې او علم سره مينه او دوستي يې د بقا سرچينه ده، په کوم کور او کوټه کې چې کتاب نه وي، لکه په وجود کې چې روح نه وي، زه په دې اند او نظر يم، که فکر وکـړو کتاب له عالمې او پوه طبقـې سره خبرې کوي، هر چېرته چې تعليميافته قشر موجود وي، هلته کتاب شتون لري او کتاب خبرې ورسره کوي، دغه بيت يې هم د ولسي ادب په دغه قيمتي مرجان سره رنګين او ښکلی کړی.

**پايله**

د شاعرانو په اړه ښکاره او څرګنده خبره ده، چې د ټولنې د وګړيو په زړونو کې يې ښه ځای نيولی، له دې ډلې څخه يو هم عبدالمتين وردګ دی، په ډېره خوږه او ساده ژبه يې اشعار ويلي ، پر دې سربېره يې د پښتو فولکلوري او ولسي‌ـ ادبياتو مشهور او مهم متلونه په خپلو ادبي مرغلرو کې په مستقيم ډول نه، بلکې په غير مســتقيم ډول يعنې لږ او ډېر تغير يې په کې راوســتلی او بيا يې په خپلو شــعرونو کې ځای پر ځای کړي .

د وينو دریاب شـــعري ټولګې منځپانګه مې ټوله وکتله، تر ډېره حده اخلاقي، ټولنيز او داســـې نورو مسايلو ته ځانګړې شوې ده، په خپلو اشعارو کې ګـــــــنې برخې لري او ډېر ادبي صنعتونه يې په کې کارولي، له دې جمـــلې څخه ارسال‌المثل يا په شعر کې ولـسي پښتو متلونو استعمالول يې يادولی شم او د پښـــتو ژبې دغه ( ړانده ته شـــپه او ورځ يوه ده/ ړانده ته څراغ لګول بې ګټې دي، خپل عمل د لارې مل دی، د نن کار ســـبا ته مه پرېږدئ، وينه په وينه نه مينځل کېږي، له ځانه د بګی‌آس مه جوړوه، کتاب تر ټولو ښـه ملګری دی ) متلونه، چې بېلګې يې په مقاله کې شـته په خپلو شـعرونو کې ځای پر ځای کړي، د پښـتو ژبې هغه متلونه، چې زموږ د ټولنې له عقيدې او دسـتور سره برابر دي، په خپلو اشـعارو کې کارولي، په پای کې دې نتيجې ته ورســېدم، چې د وينو دریاب په شـعري ټولګه

ځېرنه وشوه او د ارسال‌المثل یا په شعر کې د متلونو کارونې برخه په کې معلومه شوه، چې په ښه او هنري ډول یې په خپلو شعرونو کې کارولي او دغه قېمتي ادبي غمي یې له پیکه کېدو او ورکېدو څخه ساتلي دي، د وړاندیز په ډول وایم، د وینو درياب په شعري ټولگه کې له ارسال‌المثل ادبي صنعت څخه پرته نور ادبي صنایع په مسلکي ډول بایده ده وڅېړل شي او د دې تر څنگ دې مشرانو شاعرانو په اشعارو کې هم دغه علمي او څېړنیزې چارې سرته ورسيږي.

**اخځلیکونه**


۱ ــ ازمون، لعل پاچا.(۱۳۹۵) *پښتو فولکلوري ادبیات*. دریم چاپ، کابل: پکتوس خپرندویه ټولنه.

۲ ــ اکاډمي، علومو اکاډمي. (۱۳۸٦) *آریانا دایرة المعارف*. دوهم دور، لومړی ټوک.کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي ــ نبراسکا مطبعه.

۳ ــ بېنوا، عبدالرؤف.(۱۳۹۰) *ادبي فنون*. دریم چاپ. کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

۴ ــ ختېک، خوشحال.(۱۳۴۹) *د خوشحال رباعیات*. کابل: پښتو ټولنه، د ادبیاتو څانگه، عمومي مطبعه.

۵ ــ رفيقي، حیات الله.(۱۳۸۹) *ادبي ښکلاوې*. لومړی چاپ، کندهار: افغان یونایټډ اداري ښوونیز مرکز.

٦ ــ ژواک، محمد دین. (۱۳۸۹) . *پښتو متلونه*. لومړی چاپ، کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه.

۷ ــ شیدا، کاظم خان.(۱۳۳۱) *د کاظم شیدا دیوان*. کابل: پښتو ټولنه، عمومي مطبعه.

۸ ــ صمیم، محمد آصف. (۱۳۹٦ل) . *د متلونو کلیات*. ننگرهار: د مومند خپرندویې ټولنې تخنیکي څانگه.

۹ ــ صمیم، محمد آصف. (۱۳۹۳) *د عبدالحمید مومند کلیات*. دریم چاپ، کابل: دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانگه.

۱۰ ــ عمید، حسن. (۱۳۸۱) *فرهنگ فارسي عمید ( جلد اول )*. تهران: مؤسسه انتشارات امیر کبیر.

۱۱ ــ غروال، محمدعارف. (۱۳۹۸) *د رحمان بابا دیوان*، دریم چاپ، کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه.

۱۲ ــ کډوال، شاه محمود. (۱۳۹۴) . *د پښتو متل سپړنه*. کابل: د افغانستان ملي تحریک ــ فرهنگي څانگه.

۱۳ ــ مختار، محمد اورنګ.(۱۳۹۴) د *وردګو کلتوري یون*. لومړی چاپ، کابل: د افغانستان ملي تحریک ــ فرهنګي څانګه.

۱۴ ــ وردګ، عبدالمتین. ( ۱۳۹۷) .*ګټور ژوند*. لومړی چاپ، کابل: مسلم مطبعه.

۱۵ ــ وردګ، عبدالمتین. (۱۳۹۲) *د وینو دریاب*. لومړی چاپ، کابل: شاکر مطبعه.

۱۶ ــ همکار، محمدابراهیم. (۱۴۰۲). *بدیع پوهنه*. لومړی چاپ، کابل: هاشمي خپرندویه ټولنه.

۱۷ ــ هېوادمل، زلمی. (۱۳۹۳). *د پښتو ادبیاتو تاریخ*. درېیم چاپ، کابل: دانش خپرندویه ټولنه ــ تخنیکي څانګه.

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Academic Journal

**Volume:2 Issue: 2 Year:1404**